PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۱۰۵۲

د نورستان او تخار پر پېښو په مشرانو جرگه کې تاوده بحثونه

مشرانو جرگې د تخار د ورمې ورځې پېښه او په نورستان کې تېره اوونۍ د ملکیانو مرگ ژوبلې په کلکه وغندلې. د ځینو راپورونو له مخې د نورستان په دواب ولسوالۍ کې شاوخوا درې سوه ملکیان، وسله وال طالبان او ملي پولیس وژل شوي دي. ورمه ورځ دې ولسوالۍ ته د لغمان له لارې امبولانسونه ولېږل شول چې ټپیان ترې وباسي او مړي خاورو ته وسپاري.

د مشرانو جرگې غړې فریده کوچۍ وویل، چې په ډېرو جنگونو کې امریکایان ملي اردو مخې ته کوي

۳مخ

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۵۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۲۷ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرگولي ۹ مه – د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـق جمادي الثاني ۲۷ مه د ۲۰۱۱ د مې ۳۰ مه

یک روز پس از فرمان کرزی برای توقف عملیات خارجی ها؛

نظامیان ناتو ۱۴ غیرنظامی دیگر را در جنوب کشور کشتند

درحالی که بیشتر از یک روز از فرمان رییس جمهور کرزی برای توقف عملیات های خارجی ها نمی گذرد، نیروهای ناتو در ولایت هلمند ۱۴ فرد ملکی و بیگناه را کشتند.

این تلفات روز گذشته در منطقهٔ بازارسلام ولسوالی نوزاد رخ داده و کودکان و زنان نیز، جزء جان باختگان هستند.

والی هلمند این بمباردمان نیروهای خارجی را به شدت محکوم کرده و از بیگانگان خواسته، از انجام عملیات بدون هماهنگی با نیروهای افغان خودداری کنند.

هیأتی از سوی ولایت هلمند برای بررسی این حادثه به محل فرستاده شده است.

روز گذشته کرزی به دنبال کشتار بیش از ۳۰۰ تن از مردم محلی در ولایت نورستان، به وزارت دفاع دستور داد، تا جلوی عملیات های ناتو را بگیرد و همه عملیات ها توسط نیروهای افغان انجام شود.

پیشتر نیز کرزی خواستار توقف عملیات های ناتو شده بود.

کشتار غیرنظامیان به موضوعی عادی برای خارجی های مستقر در افغانستان تبدیل شده و بدون توجه به جان مردم، مناطق مختلف را همواره به

ص۳

والی تخار:

از حملهٔ انتحاری باخبر بودیم!!!

والی مجروح تخار می گوید که آنها در مورد فرد انتحاری که قصد داخل شدن به مقام ولایت و انجام حملهٔ انتحاری را داشت، قبلاً اطلاع داشتند.

عبدالجبار تقوا، والی تخار که در این حملهٔ انتحاری زخم برداشته، در کنفرانس خبری صبح دیروز در شهر تالقان گفت که حتا شمارهٔ موبایل انتحار کننده نیز، نزد آنها موجود بود!

والی تخار درحالی از وضعیت صحی کم و بیش خوبی برخوردار بود، گفت که آنها تلاش کردند که جلو حمله را بگیرند، اما حمله کننده داخل مقام ولایت شد و موفق به حملهٔ انتحاری گردید.

گفتنی است که در حمله یی که عصر پریروز شنبه در مقام ولایت تخار رخ داد، جنرال محمد داوود داوود، قوماندان زون ۳۰۳ پامیر در شمال و مل پاسوال شاه جهان نوری قوماندان امنیهٔ تخار با سکرتر و یک محافظ والی آن ولایت کشته شدند.

در این رویداد، ۱۰ تن به شمول جنرال مارکس از قوماندانان آلمانی آیساف در شمال با ۳ سرباز آلمانی مجروح شده و ۲ سرباز دیگر آلمانی کشته شده اند.



AP PHOTO

مسوولیت حمله را طالبان مسلح به عهده گرفتند و گفته اند که در این حمله، به شمول جنرال داوود، شماری از مقام های افغان و خارجی را کشته اند.

والی تخار افزود، در مورد هویت حمله کنندهٔ انتحاری معلومات ندارد، اما یک تیم تحقیقاتی از کابل به تخار آمده و چگونگی وقوع این رویداد را بررسی می کند.

ص۳

به خاطر بررسی قضیهٔ کابل بانک؛

وزیر مالیه تهدید به مرگ شده است

حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه با تهدیدهای مرگ در خصوص حل قضیهٔ کابل بانک رو به رو شده است. گفته می شود که این بانک صدها میلیون دالر را برای نخبه گان کابل، وزرای کابینه و تعدادی از رهبران سابق جهادی قرضه داده است. روزنامهء تایمز گزارش داده که وزیر مالیهٔ افغانستان خانوادهٔ خود را پس از تهدیدهای جدی به خارج از کشور فرستاده است. زاخیلوال از سوی صندوق وجهی بین المللی تحت فشار قرار دارد، تا رسوایی یک میلیارد دالر

ص۳

سه تن از اعضای حزب تحریر ازبکستان بازداشت شد

سه تن از اعضای حزب تحریر ازبکستان توسط نیروهای امنیت ملی در ولایت کندز بازداشت شد.

بر پایهٔ اعلامیهٔ مطبوعاتی این ریاست، این افراد در یکی از مناطق ولایت کندز دیروز دستگیر و در زمینه تحقیقات بیشتر ادامه دارد.

کندز یکی از ولایت های ناامن در شمال کشور است؛ در این ولایت بر علاوهٔ طالبان فعالیت شبکهٔ القاعده و شبکه های وابسته به آن نیز گسترده می باشد.

روز گذشته، طی انفجار انتحاری در ولایت همجوار کندز تخار، دو تن از مسوولان بلندپایهٔ امنیتی کشور کشته شدند و شماری از سربازان افغان و خارجی جراحت برداشتند.

گفته می شود، این حملهٔ انتحاری نیز توسط افراد مربوط به القاعده برنامه ریزی شده و اجرا گردیده است.

افغانستان او ترکمنستان د همکارۍ څلور تړونونه لاسلیک کړل

د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د انرژۍ، د اوسپنې د پټلۍ جوړولو، د فرهنگي چارو او سوداگریزو همکاریو په برخه کې څلور تړونونه لاسلیک شول او تاکل شوې ده، چې افغانستان ته به له هماغه هېواد څخه د برېښنا صادرات پنځه برابره زیات شي.

دغه مطلب په هغې خبرپاڼه کې په ډاگه شوی، چې د جمهوري ریاست د ویاند د دفتر له خوا رسنیو ته لېږل شوې ده.

ولسمشر حامد کرزي ورمه ورځ ترکمنستان ته د خپل څلور ورځني سفر پر لومړۍ ورځ د هغه هېواد له ولسمشر قربان علي بردي محمدوف سره خبرې وکړې.

سرچینې زیاته کړې، چې په دې لیدنه کې د ترکمنستان ولسمشر د دواړو هېوادونو ترمنځ نېکې اړیکې په ملي او نړیواله کچه اغېزمنې وبللې او ویې ویل: "مورږ د افغانستان د هوساینې، امنیت او بیارغونې غوښتونکي یو او په دې لاره کې د افغانستان له حکومت او خلکو سره بشپړ ملاتړ اعلانوو."

همدارنگه نوموړي یادونه وکړه، ترکمنستان او افغانستان کولای شي د سوداگریزو او اقتصادي اړیکو په جوړولو سره

۳مخ



دنظامي هڅو لپاره د افغانستان تاکل

②

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

دیدار فشردهٔ رییس جمهور کرزی از ترکمنستان و ارزیابی ها

رییس جمهور کرزی روز شنبه در رأس هیأتی بلندپایه عازم ترکمنستان شد و در آنجا دیدارهای مفصلی با مقام های این کشور داشت. محور مذاکرات و دیدارهای کرزی با مقام های ترکمنی را در این سفر، ظاهرا توسعهٔ مناسبات دو جانبه، تحولات منطقه و گسترش مناسبات اقتصادی و فرهنگی تشکیل می داد. بر پایهٔ گزارش ها، مسایل امنیتی، توسعهٔ روابط تجارتی کابل - عشق آباد و ادامهٔ گفتگوها دربارهٔ خط لولهٔ انتقال گاز ترکمنستان به افغانستان، از دیگرموضوعاتی بود که کرزی با مقام های ترکمنستانی در بارهٔ آنها، گفتگو کرد. اخیرا نیز، "برهان الدین ربانی" رییس شورای عالی صلح در سفربه ترکمنستان و مذاکره با مقام های این کشورعلاوه بر بررسی راه های گسترش همکاری های دو جانبه از جمله در بخش انرژی، ترانسپورت و تجارتی، دربارهٔ لزوم همکاری کشورهای منطقه به ویژه همسایگان در کمک به موفقیت برنامهٔ آشتی ملی گفتگو کرده بود.

شورای عالی صلح بر این باور است که گسترش همکاری های منطقه یی برای استقرار صلح در این کشور حیاتی است؛ به ویژه همکاری های کشوری که همواره در منطقه سیاست متوازن و بیطرفانه را در قبال قضایای افغانستان دنبال کرده است. بر همین مبنا، توجیه می شود که باید سیاست گفتگو با کشورهای منطقه برای جلب کمک آنان به برقراری امنیت و ثبات در افغانستان، به طور مستمر دنبال شود.

توسعه مناسبات با کشورهای منطقه به خصوص همسایگان از اولویت های مهم سیاست خارجی دولت افغانستان باید باشد. بر مبنای چنین رویکردی، هیأت هایی از سوی شورای عالی صلح در ماه های گذشته به پاکستان و ترکیه سفر کردند تا بتوانند، حمایت منطقه یی ازروند صلح در افغانستان را افزایش دهند. مقام های کابل بر این باور اند که پیوند منافع کشورهای منطقه از جمله در بخش های اقتصادی و امنیتی، بستر مناسبی برای تقویت همکاری های مشترک با آنان، به شمار می رود. بر همین اساس، توسعهٔ مناسبات افغانستان با کشورهای منطقه برای جلب کمک آنان به برقراری ثبات و آرامش در این کشور، ناظر به منافع جمعی است که در مقایسه با کشورهای فرامنطقه یی، از انگیزه های بیشتری برای پایان یافتن خشونت ها در افغانستان، برخوردارند.

بنا براین، رییس جمهور کرزی در سفر به ترکمنستان ضمن تاکید بر همکاری دو کشور در عرصه های تجارتی و اقتصادی، خواهان گسترش همکاری های این کشور در راستای تحقق برنامهٔ آشتی ملی بوده است.

دنظامي اډو لپاره د افغانستان ټاکل

قاضي محمد حسن حقیار



له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، چې نړۍ یوه قطبي او شوروي اتحاد د یواځیني لوی نړیوال ځواک په توګه سر راپورته او د نړۍ ډېر هېوادونه یې له ستوني تېر کړل، نو امریکا د دې لپاره، چې د دې ډاینا سور پرمختګ یې درولی او دا ښامار یې مهار کړی وي د دې موخې لپاره بېلابېل تدابیر وسنجول، چې په دې ترڅ کې یې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې نظامي اډې هم جوړې کړې او د ناټو تړون یې هم رامنځ ته کړ.

دافغانانو د سپیڅلي جهاد له برکته د روسانو زور ورو ورو ذوب کېده او نړۍ دوه قطبي کېدله، خو د افغان مجاهدینو له برکته او د دوی په مېړانه د شوروي له سقوط وروسته نړۍ بېرته یو قطبي شوه خو داځل د متوفی شوروي پرځای، د هغه اصلي سیال امریکا د لوی ځواک په توګه سر راپورته کړ.

د شوروي له ماتې وروسته امریکا په نړۍ کې خپلې خورې ورې اډې راټولې نه کړې، بلکې موخې یې ورته بدلې او لا یې هم زیاتې کړې.

د څو لاملونو ترڅنګ د منځنۍ اسیا طبعي سرچینې تر نورو مهم لامل شو، چې امریکا دې سیمې ته ډېر پام راواړوي.

دا هم شونې ده، چې د امریکا یوه موخه داوي، چې دلته د سیمې اقتصادي هیوادونه وویروي او د هغوی پام دا اقتصادي پرمختګ پرځای، نظامي هڅو ته کړي او په دې توګه یې په اقتصادي برخه کې د ګړندي پرمختګ مخه ونیسي.

دا هم شونې ده، چې امریکا د دې اډو له لارې غواړي، چې په سیمه کې وسلوال کړکېچ جوړ او خپلو وسلو ته بازار ومومي.

په اصلاح انلاین کې د فضل الرحمن مظهري مقاله

د متحده ایالاتو هوښیار سیاست پوه او د دې حکومت مهم امنیتي مشاور برژینسکي وایي، چې هرڅوک په ۲۱مه پېړۍ کې پر منځنۍ اسیا حکومت وکړي، نو بویه، چې پر ټوله نړۍ حکومت کوي، له همدې پلوه پر ټوله نړۍ د حکومت لپاره د چین، ایران، هند، روس پاکستان او امریکا ترمنځ پټه سیالي روانه ده.

د میلیاردونو بېلرو نفتو درلودونکې دا سیمه وچې را ایساره کړې او له سمندر سره پوله نه لري.

د منځنۍ اسیا په وچه محاط هېوادونه هڅه کوي، چې خپلې زېرمې بهرنۍ نړۍ ته صادرې کړي، خو اوس د نفتو د لېږد لپاره له پایپ لاین پرته بله اسانه لار نه لري د پایپ لاین له لارې د نفتو لېږد خو هند، چین او پاکستان ته اسانه او ارزانه دی، خو د امریکا لپاره سخت او آن ناشونی دی.

چین هڅه کوي، چې دا زېرمې خپلې کړي دا کار چین ته اسانه دی ځکه، چې چین د دې سیمې له هېوادونو سره سیمه ییز ګاونډیتوب او آن له تاجکستان سره ګډه پوله هم لري او که چین دې موخې ته ورسېږي، نو له شک پرته لکه برژینسکي یې، چې وایي د نړۍ لوی اقتصادي ځواک او پاچا به شي.

همدا اوس هم امریکا خپل داړتیا وړ ډېر توکي له چین څخه پېري.

جاپان تراوسه د نړۍ ستر اقتصادي ځواک بلل کېده، خو همدا سږکال یې په خپل وروستي مالي کال کې اعلان وکړ، چې دا ځای ترې چین ونیوه، چین نه یوازې اقتصادي ځواک دی، بلکې د نړۍ له سترو نظامي ځواکونو څخه هم بلل کېږي. چین سږکال خپله نظامي بودیجه دولس سلنه ډېره اعلان کړله.

..خو امریکا نه غواړي، چې د چین او هند خوب رښتیا شي، هغه هڅه کوي، چې دا زېرمې خپلې کړي او د دې کار لپاره هغه اړ دی، چې افغانستان وکاروي او له دې ځایه خپلو موخو ته ښه کارکولی شي.

امریکا به د افغانستان او منځنۍ اسیا طبعي زېرمې، چې زرګونه تریلیونه ډالره بیه لري، په خپله ګټه وکاروي او د دې زېرمو د انتقال لپاره له افغانستان لنډه او آسانه لاره بله نشته ده.

په ۱۳۵۷ هـ لمریز کال د کمونستانو د کودتا له امله افغانستان د مرکزي، ثابت، ملي، ځواکمن او ټولمنلي نظام او حکومت څخه بې برخې شو، له روسانو او د هغوی له ګوډاګیانو سره او وروسته کورنیو جګړو، د افغانستان او افغانانو مادي او معنوي ارزښتونه تباه او ولوټل په هېواد کې مطلقه انارشي، کوڅه واکي او سکتاریزم حاکم شو، د دې حالت د بدلون او افغانانو ته د نویو هیلو د القاح په نوم راغلی د طالبانو اسلامي حکومت او د دوی بې سرحده او پوله نه منونکي مسلمان او مجاهد مېلمانه د متحده ایالاتو لپاره سیمې ته د راتللو ښه پلمه او جنګ ځپلی او د فقر له کربښې هم د ټیټ ژوند لرونکو افغانانو هېواد د دوی د اوږدو موخو او پټو استراتیژیو د تطبیق لپاره غوره، آسانه او ارزانه انتخاب وو.

دا تشه دعوه نه ده، بلکې د امریکایي کارپوهانو په شمول ډېر نړیوال څارونکي اوس باوري دي، چې د سپټمبر د یوولسمې بریدونه مصنوعي او سي.آی.اې او اف.بي.آی د یهودي لابیانو او استراتیژیستانو ترڅارنې لاندې جوړ کړي وو، اصلي موخه سیمې ته د متحده ایالاتو د پښو راغځول وواو دلته جهادي روحیه ځپل وو، چې لومړی هدف ترسره شو او امریکا خپل اشغال ته متمدن رنګ ورکړ او د مشروعیت لپاره یې د ملګرو ملتونو د توافق مارک هم پرې وواهه.

پاتې لري

لوږه او جګړه دوه بېل خو سره تړلي مفاهیم!

نسیم بریال

په افغانستان کې لوږه او جګړه د مانا له مخې سره تړلي او د جولې له مخې سره بېل مفاهیم دي. که پر دې دوو مفاهیمو د مانا له مخې څېړ نه وشي، نو لوږه له جګړې او جګړه له لوږې پرته ناشونې ده. که له یوې خوا په افغانستان کې ناامني خپلو لوړو پوړیو ته رسېدلې، خو ورسره په څنګ کې لوږه او بېوزلي هم هغه لوی ناورین ګڼل کېږي، چې د دغه هېواد نژدې نوي سلنه وګړي ورسره مخ دي. که په عمومي توګه په ټول افغانستان کې د لوږې اوفقر د کچې د معلومولو لپاره یوه سروې وشي، نو دا به په ډاګه شي، چې په افغانستان کې یوازې ډېر کم شمېر خلک د لوږې او فقر تر برید اخوا ژوند کوي، یانې د هېواد ډېری برخه د لوږې او فقر په برید کې ژوند کوي. په افغانستان کې لوږه او فقر ډېر لاملونه لري. چې له مهمو لاملونو نه یې یو دادی، چې په دې هېواد کې جګړه روانه ده او جګړه خپله پر لوږې او فقر باندې خپله مستقیمه اغېزه اچوي، ځکه په یوه سیمه کې چې جګړه روانه وي، هلته بېکاري تر حد زیاته وي، خلک په ارامه نه شي کولای خپلو کارونو ته لاړ شي، نو له همدې امله له کاره لوېږي، کله چې له کاره پاتې شي، نو دا پخپله د فقر په ګرداب کې ځان اچول دي.

بل مهم لامل دادی، چې زموږ د هېواد په هکله ډېر داسې ویل کېږي، چې دا هېواد یو کرنیز هېواد دی او د خلکو د ژوندانه اساسي اړتیاوې په کې تر ډېره بریده له کرنې او مالدارۍ څخه پوره کېږي. خو په هېواد کې د کرنې په برخه کې د پام وړ کارونه نه دي شوي او همداشان په هېواد کې اوس مهال ورو ورو کرنیزې ځمکې پر استوګنځیو باندې بدلېږي او د کرنیزو ځمکو اندازه مخ پر کمېدو ده.

همداشان جګړه هم هغه څیز دی، چې پر کرنې او مالدارۍ باندې یې سیوری بې اغېزې نه دی، ځکه زموږ د هېواد ډېری سیمې د جګړو له امله شاړې پاتېږي او کرکیله په کې نه ترسره کېږي، چې دا پخپله د فقر او لوږې د کچې او په هېواد کې د اساسي توکو د لږوالي لامل کېږي. بل پلو په همدې برخه کې یوه مهمه او اساسي ستونزه چې

۳مخ

ACKU

پاکستان مهمترین «جزیرهٔ» ...

نقطهٔ اتکا و سکوی پرواز امریکاییان در این منطقه است، خود قادر به ایجاد بحران و رؤیارویی های نظامی و مخصوصاً استخباراتی می باشد. در سال های اخیر هرچه عملیات تروریستی در دنیا انجام و یا کشف شده است، دیده شده که سرو دُم افراد این کارها بالاخره به پاکستان منتهی شده است و این نشان می دهد که پاکستان منبع و، مرجع خوب بحران آفرینی است. پاکستان با این وضعیت و ساختار به آسانی می تواند، موضع و جبهه عوض کند، می تواند، از بحران ها با دادن و گرفتن امتیاز عبور کند، نسبت به هر کشوری بیشتر اهل معامله و تجربه گراست، اردوی قوی و امکانات وسیع نظامی و استخباراتی در اختیار دارد. به سلاح اتومی مسلح می باشد و حدود ۵۰ هزار مدرسه که طالبان و مدرسان آن ها به قضایا هستریک برخورد می کنند را در اختیار دارد و نظام به شدت استخباراتی و متمرکز در اختیار نظامیان قرار داده شده است. سرکوبگر است و توانسته است، بارها در برابر مخالفان داخلی مقاومت کند و به سرکوب بپردازد، اردوی پاکستانی که ارشدهای شان همه تحصیل کننده گان امریکا و بریتانیا اند، با یک اشاره می توانند، کودتا کنند و در ثانیه رژیم را به روی دیگر چپه نمایند.

تمام این ها نشان می دهد که معاملهٔ قدرت های بزرگ غربی با پاکستان بسیار آسان و قرین به صرفه می باشد. پس جنجال هایی که ظاهراً بعد از مرگ اسامه میان امریکا و پاکستان به وجود آمده چندان عمیق نمی باشد و حال امریکا از اقدامات اخیر پاکستان در بستن سه مرکز استخباراتی امریکا در کویته و پشاور و رخصت کردن ۲۵۰ کماندوی امریکایی که به کماندوهای پاکستانی در چرات تعلیم می دادند تشویش دارد و مخصوصاً قرار داد اخیر رضا گیلانی برای خرید ۵۰ فروند جت شکاری چینی امریکا را بیشتر در اضطراب فرو برده و به این دلایل به زودی روابط امریکا و پاکستان به حال عادی در خواهد آمد و پاکستان این گرگ باران دیده بارها از این بحران ها به آسانی عبور کرده و قیمتش را نزد غربی ها می داند که این طور ترازو به زمین می زند. اما بعضی ها با سطحی اندیشی فکر می کنند که این دو کشور به آخر خط رسیده و ناحق داد می زنند.

نظامیان ناتو ۱۴ غیرنظامی ...

بهانهٔ حمله به تروریستان، بمباردمان می کنند.

باوجود گذشت ۱۰سال از حضور نظامیان خارجی در افغانستان، کشتار مردم غیرنظامی افغان و ناامنی ها اینک به اوج خود رسیده است.

افغانستان او ترکمنستان ...

مهم کارونه ترسره کړي او ترکمنستان د ګازو او نفتو تر ځمکې لاندې شتمنیو په درلودو سره نوم لري، نو د یوه خپلواک هېواد په توګه کولای شي د افغانستان او سیمې په پرمختګ کې د بېلابېلو اقتصادي پروژو له لارې مهمه ونډه ولري، چې د T.A.P.I پایپ لاین پر لاره اچول يې یوه ښه بېلګه ده.

د هغه په وینا، د T.A.P.I پایپ لاین، چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته لېږدوي، په سیمه کې یوه مهمه اقتصادي پروژه ده او د افغانستان د خلکو لپاره له اقتصادي ګټې سربېره د کار زمینه هم برابروي.

نوموړي اقینه مېنې ته د اوسپنې د پټلۍ غځول، چې ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري، هم یوه با ارزښته پروژه وبلله او ویې ویل، چې د اوسپنې له دې پټلۍ سره د نړیوالو لارو په یوځای کېدو سره د لېږد رالېږد کچه هم لوړېږي او د دواړو هېوادونو پر اقتصاد مستقیمې اغېزې لري.

همدارنګه نوموړي افغانستان ته د برېښنا د صادراتو د زیاتېدو خبر هم ورکړ او زیاته یې کړه، چې د برېښنا ژر به افغانستان ته د برېښنا صادرات پنځه برابره لوړ شي. دغه مهال له ترکمنستان څخه ۷۰ مېګاواټه برېښنا افغانستان ته را واردېږي.

همدارنګه د ترکمنستان ولسمشر په دې لیدنه کې ژمنه وکړه، تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ فرهنګي او علمي همکارۍ زیاتې او د ترکمنستان په پوهنتونونو کې د افغان محصلینو د جذب لپاره زیاته ونډه په پام کې ونیول شي.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو ترمنځ له لیدنې وروسته د دواړو هېوادونو وزیرانو د افغانستان او ترکمنستان د ولسمشرانو په حضور کې څلور تړونونه لاسلیک کړل.

د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د سوداګرۍ خونو ترمنځ همکاري، د برېښنا او انرژۍ د وروستیو پراختیایي چارو په برخه کې هوکړه او همکاري، له عطا مراد نه تر امام نظر او له اقینه نه د فاریاب تر اندخوي سیمو پورې د اوسپنې پټلۍ غځول، د فرهنګ، هنر، تولیزو اطلاعاتو او ګرځندوی په برخو کې د افغانستان او ترکمنستان د حکومتونو ترمنځ همکاري د دغو تړونونو له موضوعاتو دي.

د نورستان او تخار پر پېښو په ...

او په خپله بیا دوی پرې ډزې کوي، نو د دا شان کړنو په ترسره کولو سره امریکا غواړي له افغانستان څخه عراق جوړ کړي، نو له دې ځایه غواړو، چې امریکایان دې ژر تر ژره له افغانستانه ووځي.

د تاند د خبر له مخې، د مشرانو یو بل غړي ایزدیار وویل، چې دا د کشفي او استخباراتي ارګانونو ناتواني ده، چې د دا شان بریدونو مخه نه شي نیولی، خو مشرانو جرګه د سناتورانو په غوښتنه یې پرېکړه وکړه، چې باید په نږدې راتلونکې کې د ولسي جرګې سره یوځای له جمهور رئیس کرزي سره د هیواد دامنیتي وضعې د لا خرابېدو د مخنیوي او حل په موخه وګوري.

لوړه او جګړه دوه بېل ...

شتون لري، هغه دا ده، چې په هېواد کې اقتصادي بحران او اقتصادي مافیا ده، چې په ولس کې د لوږې او جګړې تخم شیندي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر انورالحق احدي، د مالیې وزیر ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال او د سوداګرۍ او صنایعو خونې د عامل پلاوي مشر محمد قربان حقجو د غبرګولي د میاشتې پر لومړۍ نېټه د مشرانو جرګې عمومي غونډې ته بلل شوي وو، تر څو هغه لاملونه په ډاګه کړي، چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ مخه یې ډب کړې ده. احدي په دې غونډه کې وویل، یوې سروې څلور کاله مخکې ښودلې وه، چې ۴۲ سلنه هېوادوال د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، خو سږ کال ترسره شوې سروې ښیي، چې دغه کچه ۳۶ ته راټیټه شوې ده. د ده په وینا، هغه کسان، چې ورځنی عاید يې له یو ډالر څخه کم وي، د بې وزلۍ تر کرښې لاندې شمېرل کېږي.

دی وایي، چې که امنیت ټینګ شي، اړینه برېښنا برابره شي او د نورو صنعتي پارکونو لپاره ځمکې ځانګړې شي، د هېواد د تولیداتو او صادراتو کچه به څو برابر لوړه او د بې وزلۍ کچه به نوره هم راکمه شي. وموړی زیاتوي: ((سره له دې هم افغانستان په کال کې ۱۲ سلنه اقتصادي پرمختګ لري او د هېواد د صادراتو کچه هم هر کال له ۲۵ تر ۳۰ سلنې لوړېږي.)) ده د نورو معلوماتو له ورکولو پرته وویل، چې په هېواد کې د لبنیاتو، ترکانۍ، اوسپنې، حجارۍ، مرمرو، د برېښنایي سامان الاتو او د څښاک د توکو تولید کچه د تېرو کلونو په پرتله څو برابره لوړه شوې ده. همدا راز د مالیې وزیر ډاکتر عمرزاخېلوال هم په نننۍ غونډه کې وویل، چې په تېرو څو کلنو کې د افغانستان اقتصاد د پام وړ پرمختګ کړی دی.

د ده په وینا، نهه کاله مخکې په افغانستان کې د یوه تن کلنی عاید ۱۵۰ تر ۱۸۰ ډالرو پورې و، خو اوس دغه کچه ۶۰۰ ډالرو ته لوړه شوې ده. زاخېلوال زیاتوي: ((د اقتصادي پرمختګ ښه بېلګه د افغانیو ارزښت دی، چې تراوسه يې ساتلی دی.)) په تېرو شاوخوا نهو کلونو کې د یو امریکایي ډالر بیه له ۴۵ څخه تر ۵۲ افغانۍ وه. هغه په داسې حال کې، چې ویل يې که بهرنیان له افغانستان څخه ووځي اقتصادي پرمختګ به له خنډ سره مخ شي، زیاته کړه، چې د اقتصادي پرمختګ د ساتلو لپاره باید د افغانستان په بنسټیزو پروژو پانګونه وشي. خو د سوداګرۍ او صنایعو خونې د عامل پلاوي مشر محمد قربان حقجو وویل، چې افغانستان د نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو څخه دی او اقتصاد يې له بحران سره مخ دی. حقجو زیاتوي: ((د افغانستان ستونزه طالب نه، بېوزلي ده.)) دغه راز ده وویل، چې افغان حکومت په تېرو څو کلونو کې ښه فرصتونه له لاسه ورکړي دي، خو هغه د له لاسه وتلو فرصتونو په اړه نور څه ونه ویل. د حقجو د معلوماتو له مخې ټینګ امنیت، د اقتصادي پالیسیو جوړول، د اداري فساد مخنیوی، قرضې ته لاسرسی او قوي خصوصي سکتور هغه څه دي، چې په اقتصادي پرمختګ کې ښه رول لوبولای شي.

هغه وایي، چې د افغانستان خصوصي سکتور د مافیایي کړیو په لاس کې دی او کومه پروژه، چې حکومت جوړوي د کیفیت له پلوه ډېره کمزورې وي. د مشرانو جرګې مشر فضل هادی مسلمیار وویل، چې ټول باید لاس یو کړي، تر څو هېواد له شته اقتصادي او امنیتي ستونزو څخه راوباسي. په دې توګه دوی چې پخپله دا حالات ګوري او پخپله ترې خبرې کوي، نو څنګه به په دې هېواد کې د اقتصادي بحران او لوږې یا فقر مخه ونیول شي، ځکه دولت چې په پخپله د مافیایي کړیو په ولکه کې پرېوځي، نو په هېڅ صورت کې نه یوازې د هېواد اقتصاد پیاوړی کولی نه شي، بلکې د هېواد اقتصادي بحران په راتګ کې هم مهم رول لوبولی شي. نو تر هغو چې په دې برخه کې پر ځای او بېړني ګامونه پورته نه شي او هېواد له هر ډول مافیایي کړیو له زېښناک په ځانګړې توګه له اقتصادي مافیا نه خلاص نه کړي، نو په دې هېواد کې به لوږه او جګړه نوره هم خپل اوج ته ورسېږي او د هېواد لپاره به ډېرې ناوړې پایلې له ځانه سره ولري.

از حملهٔ انتحاری باخبر ...

این اظهارات در حالی بیان می شود که وزارت دفاع تاکنون پیرامون این رویداد اظهار نظری نکرده است. شماری از آگاهان و همچنین باشنده گان در ولایت تخار این رویداد را ناشی از ضعف دولت می دانند. چرا با وجود این که آنان از این رویداد آگاهی داشتند، باز هم چنین حادثهٔ تلخی رخ داد؟! ضعف در نهادهای امنیتی تا حدی است که یک انتحار کننده به راحتی لباس پولیس به تن می کند و وارد ساختمان ولایت می شود، مشابه حادثه یی که در وزارت دفاع روی داد و خود را منفجر می کند؟! هر چند حادثهٔ تخار در حالی رخ داده است که مقام ها باخبر بوده اند، پس تدابیرشدید امنیتی بوده است، سؤال اینجاست اگر نمی دانستید، چگونه برخورد می کردید و چقدر تلفات می داشتید. که مسلماً مقام های امنیتی باید در این راستا پاسخگو باشند.

وزیر مالیه تهدید به...

کابل بانک را به زودی بررسی کند. وزیر مالیهٔ افغانستان هفتهٔ گذشته برای رسیده گی قانونی به مسألهٔ کابل بانک که معاش در حدود سه صد هزار سرباز و پولیس افغان و هم چنان مامورین دولتی را اجرا می کرد، دستور تحقیقات داد. در تحقیقات هشدار داده شده که از چگونه گی قرضه های کابل بانک و اینکه چطور مدیران و سهم داران این بانک به شمول اقارب مقام های ارشد دولتی در بزرگترین بانک خصوصی افغانستان که برای مفاد خود دخیل بوده اند، پرده برداشته خواهد شد. مقام های افغان و غربی ادعا می کنند که اسناد نشان می دهد که سهمداران بانفوذ و رییسان کابل بانک، با گرفتن قرضه، ویلاهای مجلل را در دوبی و هم چنان دو مرکز تجارتی بزرگ در کابل را خریداری کرده اند. مقام های بانک مرکزی می گویند: این افراد همچنان در یک خط هوایی و شرکت های گاز که اصلاً دارایی و فعالیتی ندارند، سرمایه گذاری کرده اند. به نوشته روزنامهٔ تایمز، اتهاماتی وجود دارد که مقام های کابل بانک به وزرای کابینهٔ افغانستان رشوت داده اند، تا از برخورد با فساد در این بانک جلوگیری کنند. هم چنان اتهاماتی وجود دارد که کابل بانک میلیون ها دالر را برای کمپاین رییس جمهور کرزی در انتخابات سال ۲۰۰۹ میلادی پرداخته، اما این اتهامات همواره رد شده است. دو تن از بزرگترین سهم داران این بانک، محمود کرزی برادر رییس جمهور افغانستان و هم چنان حَسین فهیم برادر مارشال محمد قسیم فهیم معاون اول رییس جمهور کرزی به حساب می آیند. اما در هر صورت تهدید به وزیر مالیهٔ افغانستان اکنون بحران کابل بانک را وارد یک مرحلهٔ تازه ساخته است. صندوق وجهی بین المللی کمک هایش را به افغانستان به حالت تعلیق درآورده و اعلام نموده تا زمانی که مطمین نشود، حکومت افغانستان در مورد قضیه کابل بانک با جدیت عمل کرده است، این روند ادامه خواهد داشت. این نهاد هم چنان از وزارت انکشاف بین المللی بریتانیا که معاش های معلمان، کارمندان صحی و ماموران حکومت را می پرداخت، خواسته است، تا کمک های خود به افغانستان را تا زمان تعیین شدن سرنوشت کابل بانک، به حالت تعلیق در آورد.

ACKU

پاکستان مهمترین «جزیرهٔ» ثبات ایالات متحدهٔ امریکا

سعید سعادت



بگومگوهای اخیر در روابط ایالات متحدهٔ امریکا با پاکستان، هرگز خراب شدن روابط استراتیژیک میان دو کشور را نشان نمی دهد. بعد از کشته شدن اسامه و ظاهراً به وجود آمدن سردی در روابط دو کشور، هیچ پاکستانی به امریکا نرفته و این فقط امریکاییان بوده که وقت ناوقت و با تشویش خاصی به اسلام آباد آمده اند. مارک گروسمن نمایندهٔ خاص اوباما اولین کسی بود که بعد از مرگ اسامه به پاکستان آمد. بعد از گروسمن، مارک مورل معاون سازمان سیا به پاکستان آمد و بعد از مذاکرات سری با سران استخبارات پاکستان دوباره به واشنگتن برگشت. جان کیری سناتور دموکرات و رییس کمیتهٔ روابط خارجی سنای امریکا سومین مقام امریکایی بود که به اسلام آباد رسید و با رضا گیلانی ملاقات کرد و اینک هیلری کلنتن وزیر خارجه و مایک مولین لوی درستیز قوای امریکا به پاکستان رسیدند که هم با رییس جمهور و هم رضاگیلانی، اشفاق کیانی و شجاع پاچا دیدار کردند. این دیدارها روز به روز با اهمیت تر شده و مقام های مهمتر یکی پی دیگر به دیدار اسلام آباد شتافتند.

تمام هیأت های امریکایی در این ملاقات ها هم به نعل و هم به میخ زدند و گفتند که پاکستان در مبارزه برضد تروریزم باید پیگیرانه عمل کند، پاکستان دوست مطمین ماست و از بابت کمک های ایالات متحده تشویشی نداشته باشد. این اظهار نظرهای است که مقام های امریکایی در مورد پاکستان کرده اند، نشان می دهد که امریکا نسبت به پاکستان به این رابطه بیشتر محتاج است، چون تا حال کشوری در این منطقه نیست که بتواند، جای پاکستان را در روابط با امریکا پر بسازد.

امریکا از زمانی که به ابر قدرتی در جهان مبدل شده، گاهی از پاکستان رو گردان نشده و مخصوصاً در سی سال گذشته، امریکا در دهلیزی که جنوب آسیا را تا آسیای میانه و سایبریا وصل می کند، فقط بر پاکستان اتکا داشته است و تمام سیاست ها و طرح های خود را از این طریق پیاده نموده و مهمترین امتیاز پاکستان برای امریکا این است که در شکست و فروپاشی شوروی از طریق افغانستان نقش مهمی را ایفا کرد و این را هرگز امریکاییان فراموش نخواهد کرد. در صورتی رقابت میان روسیه و امریکا، چین و امریکا باردیگر اوج بگیرد، بازهم پاکستان به عنوان جزیرهٔ ثبات سیاست های امریکا نقش مهمی ایفا خواهد کرد.

امریکا در این منطقه نمی تواند، بدون پاکستان بر هیچ کشوری اتکا و حساب کند. با اینکه روابط میان هند و امریکا خوب شده و رو به بهبود می باشد، اما هند خود در صدد ابرقدرت شدن است. هند می خواهد، عضو دایمی شورای امنیت شود، رژیم های حاکم بر هند حزبی و اصول دموکراسی را رعایت می کند، سیاست های دولت بر اردو و استخبارات استوار نیست، به سوی بحران آفرینی سیر نمی کند، می خواهد، با استقلال کامل با امریکا رابطهٔ خوب تجارتی داشته باشند، در حالی که بازار تسلیحاتی هند تا حال در مشت اتحاد شوروی قرار دارد و تغییر این بازار به نفع امریکا به شدت دشواری است.

صدراعظم هند در آخرین سفرش به کابل از استقلال افغانستان و متکی به خود شدن آن یاد کرد که خود می تواند، چالشی برای حضور دایمی امریکا و مداخلات پاکستان و ایران در افغانستان به حساب آید.

ایران از دشمنان خونی امریکاست که باید روزی در رویارویی گرم قرار بگیرند. در صورتی ایران به دستیابی سلاح اتومی نزدیک شود، امریکا راهی جز مقابلهٔ نظامی با آن ندارد. هند و ایران شدیداً خواهان خروج نیروهای امریکا از خاک افغانستان است.

چین کشوری است که چند سال بعد از نظر اقتصادی پا به پای امریکا می شود و حال تلاش دارد، تا ارتش را با سلاح های پیشرفته تر مجهز سازد. در مسألهٔ تایوان با امریکا شدیداً اختلاف دارد. چینی ها فکر می کنند که امریکا در صدد تجزیهٔ کشور شان است و به این خاطر، از دالایی لاما حمایت می کند و امریکا نگران است که چین بازارهای آن کشور در افریقا را زیر تسلط نگیرد و گفته می شود که جنگ در لیبیا به خاطر تجزیهٔ آن کشور است و غربی ها با این تجزیه می خواهند که از نفوذ چین در افریقا جلوگیری کنند. کشورهای آسیای میانه تا حال قادر نشده است، از نظر بسیاری مسایل خود را از تسلط روسیه نجات دهند. هنوز این کشورها با هزار و یک رشته در وابستگی با روس ها قرار دارند و امریکا نمی تواند، بر این کشورها حساب و سرمایه گذاری کند. خود روسیه اگر امروز نه فردا به یکی از رقبای مهم امریکا در منطقه مبدل خواهد شد و به این صورت نمی تواند، بر این کشور حساب کند که باید برای جلوگیری از چلنج های فردا از امروز او را محاصره و تجرید نماید.

افغانستان که کشور به شدت زخمی و فقیری است و تا امروز اتباع آن قربانی جنگ هایی که جریان دارد می شوند و تا حال اردو و استخبارات آن قادر به کنترول پایتخت نیستند، چه رسد، به اینکه سرتاسر افغانستان را کنترول کنند و امریکاییان برای استقرار بی چون و چرای نظامی مجبور اند که تا مدتی این جنگ را ادامه دهند، لذا نه تنها بر افغانستان به عنوان نقطهٔ اتکای سیاست های آسیایی اش حساب کرده نمی تواند که تا مدت ها افغانستان صحنهٔ کارزار و کشمکش جنگی خواهد بود، لذا یگانه جایی که امریکا از ده هزار کیلومتر دور می تواند، بر آن حساب کنند، پاکستان است.

پاکستان در کنار اینکه ص۳

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده دهم: ۱– هر دولت عضو، با توجه به ممنوعیت شکنجه به مجریان قانون، پولیس و نظامی، کارکنان خدمات صحی، کارمندان ودیگر افرادی که به نحوی در بازداشت، بازجویی و بازرسی (افراد دخالت دارند) و نیز هر رفتاری که موجب دستگیری، بازداشت و زندانی افراد می شود، آموزشها و ا طلاعات لازم را به آنها بدهند و مطمین شوند که آنها از این آموزشها و اطلاعات برخوردار خواهندشد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې
د سرلیکنې ننګه کوي،
نورې لیکنې د لیکوال
خپل نظر دی، ورځپانه یې
مسوولیت پر
غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۵ ۵۹۶۲ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای
بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com

ACKU